هیواددوست ۲۰۱۹/۱۲/۰۵

د وښو ریبلو ماشین

(لنډه کیسه)

مېرمن جونز مېړه نه درلود، خو دوه ځامن یې لرل. هغوي ستر او غښتلي وول، خو ټنبل.هره سه شنبه به ښوونځي ته نه تلل. تل به یې مور ورته ویل:

نن له غرمې وروسته د چمن واښه وریبئ. د هلکانو سره له دې چې دا کار یې نه خوښېده، خو تل به یې دا کار ترسره کاوه.

یوه ورځ یو چا یوه مجله له دوي څخه یو تن ته ورکړه، او هغه هم په دې مجله کې د وښو د ریبلو د ماشین یو انځور ولید، د ماشین پر سر پر یو ځای یوه مېرمنه ناسته وه. هلک مجله خپل ورور او مور ته وروړه او هغوي ته یې وویل:

وګورئ هغې مېرمنې ته چې د ریبلو پر ماشین ناسته ده او د چمن واښه ریبي. موږ له هغو څخه یوه غواړو.

مور یې وپوښتل: د وښو ریبلو یو ماشین؟

هلک وویل:

نه، یوه له دغو مېرمنو څخه غواړو چې هره اوونۍ د چمنونو واښه وریبي.

د وښو ریبلو ماشین

یوه انګلیسي لنډه کیسه

پښتو کوونکی : یوسف هیواددوست

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ